اجل به مې راشي اووارثان به مې دا پور د اسلام خزانې
ته ورته سپارې اوته چې د خپل مال قدر پېژنې
نو البته مال به دې نړما وارثانو ته پرې نږدې.

کرانو لوستونکو! د حضرت عمر رضي الله تعالى عنه د عدالت
څخه مودنمونې په ډول د دې قصې ولوستې
چې د هغه د عدالت نمایندګي کوي. نومونږ ټولو
مسلمانانو ته لازم دي چې د بیت المال په برخه کښې
اسلامي عدالت په نظر کې ونیسو او د اسلام
د سپېڅلي قانون په رڼا کښې ژوند وکړو.

علم

علم د پوهې پېژندنې او خبرتیا په معنیٰ دی
علم دیوې ورځې پرځپرد ی چې د انسان زړه دماغ
او د هغه د بریالیتوب لارې روښانه کوي. او انسان
دې لارې او مایوسۍ څخه خلاصوي او هدف ته
د رسیدلو لارې یې اواروي. بالمقابل جهل اوناپوهي
داسې تیارې ده چې انسان د پرله پسې خطرونو تیا او
خواریو سره مخامخ کوي. څښتن تعالیٰ خپله د پوه
او ناپوه ترمینځ توپیر په داسې واضح ډول فرمائي
آیا هغه کسان چې پوهیږي او هغه کسان چې نه
پوهیږي سره برابر دي ؟"

هو هیڅکله پوهه او ناپوهي ، پوه اوناپوه
ورځې او تیارې سره یو ترڅنګ برابر نه دي. ځکه

پوه د پوهې په زده کړه او په هغې باندې د عمل په واسطه ځانته دنیا او آخرت دواړه کتې . د پیر غوره شی چې په ژوندکې د انسان د پت او عزت سبب کرځي او د خلکو په نزد د هغه قدر او درناوی پرې زیاتیږي هغه علم دی چې د عمل سره یوځای وي .

د علم په وسیله انسان خپل ځان او خپل پیدا کونکی (خدای جل جلاله) پیژني نو لازمه ده چې علم د عمل سره یوځای وي . ځکه وائي، « د علم میوه او ثمره عمل دی .» بې عمله عالم د شندې وني په څیر هیڅ ارزښت نه لري .

زده کوونکي باید د اسلامی علومو زده کړې ترڅنګ د تخنیک او صنعت کسب هم وکړي

ځکه د ژوندانه په ډګر کښې تخنیك اولاسي کار ونوته هم
اړتیالرو. باید کوښښ وکړو چې دنورو علومو
د زده کړې څخه بې برخې پاتې نه شو ترڅو د اسلام
د ښمنانو د مقابلې په وخت کښې وکولای شو چې پخپلې
پوهې او تخنیك سره د ښمنانو مقابله وکړو .

په عین حال کښې باید د خپل علم او پوهې څخه د عالم
بشر د هوسائی او سوکالی په لاره کښې ګټه واخلو. د علم
څخه باید د خلکو د ستونزو د لېرې کولو په لاره کښې کار
واخیستل شي نه داچې په خلکو باندې د زور او نورو یاتي
کولو وسیله شي یا عالم د داسې غله په څېرشي چې په
لاس کښې څراغ لري او د خلکو مال په آسانۍ سره
پټ کړي . مونږ باید په نورو اختراعاتو او اکتشا
فاتو کښې کوښښ وکړو او د ایمان او عقیدې

په سر تاکښې د عالم بشر د دوارو وجهانو د نیکمرغۍ لپاره
تر ټولو کار واخلو.

مطالعه

مطالعه داسې عمل دی چې د انسان د ستر کو د خپل
نه د جهل اوناپوهۍ پردې لیرې کوي. مطالعه
انسان د مختلفو اوازېښتنا کو موضوع ګانو او
مطلبونو څخه خبروي. انسان دیته هڅوي چې
باید د علم او پوهې څښتن شي.

د هر ښه اوازېښتنا که شیان د مطالعې په وسیله لاس
ته راځي. د مطالعې له برکته انسان د علم،
پوهې او کمال څښتن کېږي. مطالعه د انسان
د ماغې قوت او قدرت ته وده اوپراختیا ورکوي

د مطالعې په مرسته سړی کولای شی چې د ښه اوبد ترمنځ توپیر وکړي ، زیار وباسي او د خپل دنیا او آخرت د ښه والي لپاره هاند اوکوښښ وکړي.

مطالعه انسان د خپل ژوند انه د مسؤلیت څخه خبروي. او انسان ته لار ښوونه کوي چې څه د ول خپل مسؤلیت رفع کړي ترڅو پوه شي چې مسؤلیت څه شی دی او مسؤل څوك دی ؟ د خپل ځان او نورو اړتیاوې څه رانه پوره کړي .

همدا مطالعه ده چې انسان دهغې په وسیله خپل خدای جل جلاله پیژني او اړیکی یې د خپل پیدا کونکي خدای جل جلاله سره ټینګیږي . د مطالعې په مرسته سړی کولای شي چې د خپل خدای ﷻ عبادت وکړي. د اسلام په سپیڅلي دین او شریعت پوه شي او دهغې

دلارښوونې سره سم عمل وکړي اوبل څوک چې د شریعت
خلاف کوم کارکوي هغه ته د ښو او بدو لارښوونه
وکړي اود بدۍ لارې د تلو څخه یې مخنیوی وکړي
اوښو کارونوته یې وهڅوي . د مطالعې په وسیله
انسان د خپلې دنیا او آخرت د نیکمرغۍ لاره پیدا
کولای شي . له همدې امله په پاک قرآن کې دې
خبرې تأکید شوی دی چې انسان باید د علم
او مطالعې په وسیله د خپل ژوند انه غوره لارې
پیدا کړي اوپه هغې باندې روان شي .

څرنګه چې په دې باندې پوه شو چې مطالعه
ډیره ګټې او ښیګڼې لري ، نو ښائي چې تاسو
د ښوونځي دزده کوونکو په توګه د تل دپاره په
هرځای اوهر وخت کې مطالعه وکړئ اوهڅه وکړئ

چې داسې ښه اوګټور کتابونه پیدا کړی ، چې تاسو
ته په نړۍ او آخرت دواړو کې ګټه ولري .

لغات	معنیٰ
هاند	تلاش،
هڅه	کوشش
ګټور	مفید
نړۍ	دنیا
سپېڅلی	پاک

ښوونکی دې د مطالعې دا ډنډ ښت په هکله زده کوونکو ته
ګټورې لارښوونې وکړي .

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم انما بعثت معلما

«مشکوة شریف»

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

بیشکه همدارخبره دهچې لیږلی شوی یم زه معلم الخیر ود»

ښوونکی

ښوونکی هغه څوك دی چې: خپل ګران عمر ستاسې د اصلاح، علم او هوښیارۍ لپاره صرفوی. ستاسې په علم او کمال خوشحالیږي او په نادانی او جهل موخپه کیږي.

استاد کوښښ کوي چې تاسې وپوهوي، علم او ادب درونښي. څنګه چې استاد د روح تربیّت او پالنه کوي، او مور او پلار ستاسې د بدن، نو له دې امله د استاد حق هم د مور او پلار

په شان زړيات دی .

ګرانو زړه کوونکو ! که څوک تاسې ته څو روپۍ يا يو لباس درو ببخښي ، څومره به يې عزت کوی ؟ سړه له دې هغه روپۍ به خلاصې شي ، او لباس به هم زوړ شي ، مګر ستاسې به نه هيريږي . همېشه به يې په ښو يادوی او ترابده به يې احسان منونکي ياست .

استاد تاسې ته داسې دولت درکوي چې نه تاميږي ، او نه زړيږي .

هرچېرې چې لاړ شی ، دعلم دولت به درسره وي او خلك به مو عزت کوي او په درنه ستر ګه به درته کوري . نو بايد په ډېر شوق د استاد خبرو اوسبق ته متوجه اوسی ، او هره خبره

حمد

په نامه د هغه خدای چې دا بیان دی

چې یونوم یې په نومونو کې سبحان دی

هم پادشاه دی د جمله ؤ پادشاهانو

هم د هر یوه سلطان په سر سلطان دی

چې په ده شي هغه کار په هیڅ انه شي

هر توانا د ده ترتوان پورې ناتوان دی

په سجده یې ځمکې سر دی لګولی

هم یې زورپند په رکوع سره آسمان دی

هره ونه په قیام ورته ولاړه

هر کیاه یې په تسبیح سره زبان دی

یې د زړه په غوږونو واوري . وایي چې امام اعظم صاحب (رح) په یو مجلس کې ناست ؤ ، یو هلک راغی امام اعظم صاحب (رح) ، دهغه هلک دعزت لپاره دهغه مخې ته ولاړ شو . چا پوښتنه ځنې وکړه چې :

امام صاحب (رح) ! څنګه ددې هلک مخې ته ولاړشوې؟

امام اعظم صاحب (رح) ، وویل : دا زما استاد زوی دی . یو وخت مې دده د پلار څخه یوه مسئله زده کړې وه . که زه د اُستاد تعظیم ونه کړم نو څنګه به دخپل علم څخه ګټه واخلم .

ښوونکی دې د استاد د مقام او درناوي په هکله د اسلام د سپیڅلي دین له نړۍ لید څخه زده کوونکو ته معلومات ورکړي .

لارښوونې

همیشه د الله ﷻ ذکر عبادت کړې
پاک قرآن په ډ هره مینه تلاوت کړې
په هر وخت کښې خدائ ﷻ ناظر دهر عمل دې
په کار وکښې صداقت او عدالت کړې
د اسلام د هر یو حکم تابعدار شې
همیش تلنه په قانون د شریعت کړې
مؤمنان دي سره یو تر بله وروڼه
په خپل منځ کښې ورورولی او محبت کړې

شعر

زړه دې ونیو په وسواس د شیطان ولې
دا خپل کور دې کړ په ظلم ویران ولې
لکه طفل تل په لهو لعب خوښ یې
خبر نه یې په خپل سود او په زیان ولې
د ځوانۍ عمر دې تیر په معصیت کې
په پیرۍ کې باندې نشوی پښیمان ولې
همیشه وایې فردا به دنن غم خورم
د پرون پسې ته ښکېرې ارمان ولې
هومره توان چې د ګناه لرې کمبخته
وطاعت ته شوې بې حده ناتوان ولې
دا جهان د محنت سرای دی ژړا بویه
شپه او ورځ بې غمه ګرځې خندان ولې

خوار وجود دې عبادت لره پیدا شو
الوده دې کړ تمام په عصیان ولې
هیڅ باور دې د شارع په قول نشي
بې تصدیقه بولې ځان مسلمان ولې
چې نه زاد نه راحله تنها سفر کړې
"پیر محمد" غریب به نه وي حیران ولې

. . . . . .

لغات	معنیٰ
وسواس	بدی اندیشه .
طفل	ماشوم
سود	کتبه
زیان	تاوان، ضرر
معصیت	گناه
شارع	الله جل جلاله افندمغز رسول صلی الله علیه وسلم
زاد	توشه
راحله	بارگیر .


التَّائِبُونَ الْعٰبِدُونَ الْحٰمِدُونَ السَّائِحُونَ الرّٰكِعُونَ السّٰجِدُونَ الْاٰمِرُونَ
بِالْمَعْرُوفِ وَالنّٰاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحٰفِظُونَ لِحُدُودِ اللّٰهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ

دوي توبه کوونکي دي [له معاصيو] عبادت کوونکي (الله ج ته په اخلاص) بې تعلق پاتې کېدونکي دي [د دنيوي لذايذونو] رکوع کوونکي دي سجده کوونکي دي .

[په لمونځونو خپلوکښې] حکم کوونکي دي په معروف (ښېګڼو) اومنع کوونکي دي [خلقو لره] لمنکرو [او بدوکارو] او ساتونکي دي حدودو د الله ﷻ [يعنې د احکامو بې چې عمل پرې کوي] او زېرې ورکړه ای [محمده ﷺ] مومنينو ته [چې موصوف دي په دغو صفاتو په جنت سره]

(پاڼه ۱۱ سورۀ التوبه)

د مجاهد صفات

مجاهد هغه چاته وېل کېږي چې خپل ټول ژوند ، مال شتمني ، پوهه اوفکر پې دلوی خدای (ج) د رضا او دځمکې پرسرد قرآني حکومت دمنځ ته راوستلولپاره وقف کړي وي .

دمجاهدلوړ اوعالي صفات په لاندې دول

بیا نبري :

۱ - مجاهد باید د تقوی او پرهیزګاری خاوند وي او د پاک خدای ﷻ د ټولو اوامرو منونکی او پابند وي .

۲ - مجاهد باید رښتیا ویونکی او صادق وي او هیڅکله یې له ژبې څخه درواغ وانه وړي بدل شي .

۳ - مجاهد هیڅکله د خپلو مسلمانو وروڼو په مال او شتمنیو تېری نه کوي ، په ټېره بیا د هغه ساتل او حفاظت خپله دنده بولي .

۴ - مجاهد د مسلمان وژل او د مسلمانو وروڼو د آبرو او عزت پایمالول پرځان حرام ګڼي .

۵ - مجاهد دلوی خدای ﷻ مینه او اطاعت د ټول له پاره خپله وظیفه بولي او په ټولو حالاتو کې (هم په جنګ او هم په سنګر کې) د الله ﷻ ذکر کوي .

۶- مجاهد د خپلو مسلمانانو وروڼو د اتحاد اویوالي غوښتونکي وي او له نفاق او دښمنۍ څخه ډډه کوي.

۷- مجاهد دکافرانو سره سخت ګیر او د مسلمانانو په وړاندې مترحم او مشفق وي.

۸- مجاهد د شهامت او میړانې خاوند وي او هیڅکله بې همته نه مني.

۹- مجاهد د اسلامي اوامرو او د مسلمان امیر اطاعت کوي.

۱۰- مجاهد د اسلام په لاره کې د تکالیفو او زحمتونو په مقابل کې ستړیا نه حس کوي.

۱۱- مجاهد حلیم او تېروونکی وي، دلویې او ځان غوښتنې او ریا څخه ځان ژغوري.

۱۲- مجاهد دتل له پاره د دینی مسائیلو په نړه کړه کښې نړیاړ باسي، ترڅوښه او بد، حق او باطل د اسلامي احکامو په رڼا کې وپېژني.

۱۳- د خدای ﷻ دلارې مجاهد دتل له پاره د غیبت او چغلې څخه ځان ساتي.

۱۴- مجاهد تل خلك نېکو کارونوته را بولي اوله بدو کارو څخه یې منع کوي.

لغات	معنیٰ	لغات	معنیٰ
۱- وقف	بخشش، خیرات	۵- نفاق	بې اتفاقي
۲- حفاظت	ساتنه	۶ مشفق	مهربان
۳- ابرو	عزت	۷- شهامت	زړورتیا
۴- اطاعت	د امرمننه	۸- حلیم	برده بار- صبر کوونکی.

اَفغانِسْتان

افغانستان دایماندار د انسانانو کوردی
دغیرتی پاکو ځلمو او ډګوانانو کوردی
چې پاکه خاوره د اسلام په خپلو وینو ساتي
دا د تاریخ دمیړنو او شهیدانو کوردی
په مرګ شهید په ژوند غازي دوارو کښې خیرګنې خپل
دغه وطن د دې نظر د خاوندانو کوردی
د بښنه! حال ته د چنګیز او د فرنګ پام و بګړه
دا د هغوازمایل شوو شاه ځلمیانو کوردی
د لته قطبي ځنا ورځرس شپې تیرولی نشي
دا اوچت غرونه د زړورو شنو زړیانو کوردی

همه واړه په تسبیح د ده مشغول دي
که ملك دی که پیری دی که انسان دی
هر ماهي پي په دریاب کې حمد وائي
هر مرغه پي په چمن کې ثنا خوان دی
حق په حق پي ثنا هیڅ اکړې نه ده
نه له هیڅ واقع شوی دا بیان دی
مخلوقاتو هسې نه دی پېژندلی
لکه ده سره چې قدر دخپل ځان دی
حد پایان پي هیڅ سړي موندلی نه دی .
معرفت پي هسې بحر بې پایان دی

دې د سیّد جمال الدین غوندې بچیان رونړلي

دا پاکه خاوره د اسلام دعالمانو کوردی

چې د دښمن توپ او تانکو ته سینې سپړکړي

زمونږ هیواد د غیرتي مسلمانانو کوردی

دا د عثمان رضؓ د خلافت اوسخاوت دېره ده

زمونږ وطن د عاشقانو عارفانو کوردی

د دښمن به ټول زهر و زبر شي د الله ﷻ په مرسته

د محمد ﷺ نبي رویدار د امتیانو کوردی

گرانو زده کوونکو! پورته نظم په نثر بدل کړی .

محترم ښوونکی دې هر بیت د هغوی د لیاقت او پوهې سره سم معنی کړي.

څه کول په کار دي

۹

دحق منل دحق کول دحق ویل دي په کار.

دحق په لاره کښې د ځان قربانول دي په کار

دحق په مینه چې تېرشوي څوک له سره ځانه

دهغو ښکلو شهیدانو په لار تلل دي په کار

څوک چې دحق په اراده تر لامکانه رسي

د هغه ستر هېر د هر دستور منل دي په کار

چې انساني ژوند تر یې لاره د بقا وښوده

پاک اسلامي قانون په ځان تطبیقول دي په کار

پیدا له خاورو واپسي به ځو د خاورو په لور

د استکبار له خصایصو ځان ساتل دي په کار

ټول چې د حقه انحراف کوي په بله خوا ځي
داسې کسانو سره جنګ جګړه کول دي په کار

پرمخ دنرمۍ چې سرینبي پې د فساد خپرې کړي
دکمونیزم د قانون لغوه کېدل دي په کار

په تش نامه به مسلمان وي چې عمل پې نه وي
مسلمانانو د جهاد په لاره تلل دي په کار

وایي «غالب» په هره خواد ښمن دامونه اینبي
ځوانانو تاسو ته ننه هم بیدار یدل دي په کار

لغات	معنیٰ
دستور	اجازۃ ، امر ، حکم .
بقا	پاتینت
استکبار	خپل ځان لوی کنل ، لوی کول .
خصایص	خاصیتونه ، عادتونه
انحراف	ګرزیدل ، اوښتل

ښوونکی دې زده کوونکو ته د دې نظم په باره کښې لازم توضیحات ورکړي .

حکیمانه خبرې

۱- ښه سړی د مسلمانانو په خوشحالی خوشحاله او د مسلمانانو په خفګان خفه کیږي

حضرت ابوبکر صدیق (رضی الله تعالی عنه)

۲- کلکوالی اوتکړه والی دادی چې سړی خپل کار په خپل وخت وکړي . حضرت عمر فاروق (رضی الله تعالی عنه)

۳- هغه کسان چې لوړ همت ندلري ، هیڅکله به لوی نه شي . حضرت عمر فاروق (رضی الله تعالی عنه)

۴- ړومبی فکر کول په کار دی او ورسته په کار شروع کول . حضرت عمر فاروق (رضی الله تعالی عنه)

۵- هغه څوک چې ځان ټینګ کړي اوپر سمدلار

لاس شي د هر هوښيار دی . حضرت عثمان (رضي الله تعالى عنه)

۶- هوښيار سړی د هري وينا لپاره نه، بلکه د هر کار لپاره نريات کوښښ کوي .

۷- هغه څوک چې صاف زړه او ښه خوي ونه لري د انسانيت درجې ته نه رسيږي .

۸- بې عقله سړی ادب او بې دينه سړی انصاف نه لري . حضرت حسن (رضي الله تعالى عنه)

۹- د نيک خويه خلکو خبرې خوږې او خپله مينه ناک وي . حضرت عبدالله بن عمر (رضي الله تعالى عنه)

(لوی اصحابات)

کرانو زړه کوونکو! پوريته حکيمانه خبرې پخپلو کتابچو کښې ولیکی او بيا يې په ياد و زړه کړی .

د مطالعې لپاره کتاب
غوښتل

ګرانه او محترمه وروره نصرت الله !

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ .

وروره : ددې لیک تر لیکلو پورې دلوی څښتن تعالیٰ ج په فضل او مهربانۍ سره روغ او جوړ یم . ستاسو روغتیا اوخوښي د خدای تعالیٰ جل جلاله څخه همیشه غواړم .

د قدر وړ : زمونږ کلنۍ ازموینه پیل شوې ده ، دراتلونکي سه شنبې په ورځ د دینیاتو مضمون امتحان لرم ، هیله کوم چې ژر تر ژره

دشپږم ټولګي د دینیاتو کتاب راوستونکي،
ترڅو امتحان ته تیاری ونیسم او لوړ ټولګي ته
برېالی شم. زما له خوا ټولو دوستانو ته سلامونه
ورسوه. په درنښت.

لاس لیک .....

ګرانوزده کوونکو!

۱- پورته لیک پخپلو کتابچو کښې ولیکئ.

۲- خپل ملګري ته د مبلمستیا یو خط ولیکئ.

د ایمان جذبه

سرنه پسې تېریم خو اسلام نه تېریدی نشم
دا مې عقیده ده عقیده مې پرېښودی نشم
سل ځل که مړ شم دا به وایم مسلمان یمه
دین زما اسلام دی خپل آئین نه بدلوی نشم
زه د ظالمانو جابر انوته ولاړ یمه
عزم مې متین دی تر هیڅکله کرزیدی نشم
چل فریب دغیر اود اغیار پرما اثر نکا
لاړ د حقیقت راته بنکاره ده غولیدی نشم
زه د ظالمانو ظلم زورته لکه سپر یمه
تینګ زما ایمان دی دهیڅ غلام کیدی نشم

ماسره په ژوند کښې پاک هدف دی پرې ولاړیمه
بې هدفه ژوند کښې خپل هدف ته رسیدلے نشم
وایي مجاهدچې نړه د تینګ ایمان خاوندیمه
بې له پاک الله ﷻ نه وبل چاته تېټېدلے نشم

کرانوزده کوونکو! پورته نظم په ښه خط په خپلو کتابچو کښې ولیکی.

نعت

اول نور کہ د رسول ﷺ نہ وی پیدا
روښنائی بہ پیدا نہ وہ پہ دنیا
تل صلوٰۃ پر محمد ﷺ پہ اخلاص وایہ
آئینہ کرہ د خاطر پرې مصفا

پہ ظاہر محمد ﷺ ختم النبیین دی
پہ معنیٰ کې مقدم دی تر هر چا
امید وار یې لہ در بارنا امید نہ ځي
محمد ﷺ کان دی د جود او سخا

کہ مطلب د چا صراطِ المستقیم وي
محمد ﷺ رسول دلیل دی رهنما
چې پہ زړہ یې محبت د رسول ﷺ نہ وي
هغہ کلہ محبت لري د خدای ﷻ

کار وکړئ او سوال مه کوئ

یوه ورځ محمود د پلار سره په لاره روان ؤ. په مخه ورته یو هلك ورغی او سوال یې تری وکړ. د محمود پلار تری تېرشو، خو محمود ورته د جیب نه دوه (۲) روپۍ راویستې او وریې کړې چې لږ څه مخکښې لاړل نو پلار محمود ته وویل: بچیه! خیرات ورکول د هر ښه کار دی، حوړانده، شل، کوډ، مسافر او نا روغ ته خیرات ورکول، د هر نرمات ثواب لري.

نه هره ورځ وینم چې دغه هلك په سوال پیسې غواړي. په سوال باندې روزي لاس ته

راوړل ښه کار نه دی .

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم داسې لارښوونه کړې ده چې : (خپله روزي دکار او زیار په وسیله وکمتي ، سوال مه کوی او دبل چا څخه په سوال څه شی مه غواړی) .

د حضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې : یو انصاري سړی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضور ته راغی او ورته یې وویل : ای د خدای حبیبه ! ما ته څه راکړې ؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې په کور کښې څه نه لري ؟

سوال کوونکي وویل : زه په کور کښې دوه شیان لرم ، یوه شړۍ ده چې یوه برخه یې

اغوندو ، او بله برخه يې هوارو و . بله دلرګي
کاسه ده چې او به پکښې څښنو.

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم، وفرمايل : هغه دوا
راوړئ. سوال کوونکي دوا راوړل.

رسول مقبول صلی الله علیه وآله وسلم دوا په مبارک لاس
کښې ونيول ، او ويې ويل چې : دا دوا څوک اخلي؟
يوسړي وويل : دا دوا زه په يوه روپۍ اخلم.
حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وآله وسلم دوه يا درې ځلې
وفرمايل چې : څوک يې له يوې روپۍ څخه زيات
اخلي؟

بلسړي وويل : زه دا دوا په (۲) روپۍ اخلم.
رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم دوا په دوه روپۍ خرڅ
کړل ، او روپۍ يې انصاري ته ورکړې او ورته ويې

ویل: په یوې روپۍ خوراکي شیان واخلاوخپلو
ماشومانو ته یې یوسه: او په بلې روپۍ تبر واخله
اوما ته یې راوړه.

انصاري تبر راوړ او حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وآله وسلم
ورته پخپلو مبارکو لاسونو په تبر کښې لاستی واچوه،
بیا یې ورته وویل: ځه لرګي وهه اوخرڅوه یې،
او پنځلس (۱۵) ورځې دې ونه کورم. انصاري
لرګي و هل او خرڅول.

انصاري پنځلس روپۍ جمع کړې وې چې
د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم حضور ته راغی، په څه
اندازه روپو یې جامې واخیستې، او په څه روپو
یې خوراکي شیان راښیول.

د خدای جل جلاله حبیب ورته وویل: «داکار

کول تانه غوښه دی د سوال کولو څخه ، ځکه سوال کول به په ورځ د قیامت کښې ستا پر مخ توره ټکی وکړئي .

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دا سخته نه وه چې سوال کړته یې روپۍ ورکړې وای.

خو حضرت رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا نه غوښتل چې مسلمانان دې په سوال کولو عادت شي . مسلمانان باید د سوال کولو څخه ځانونه وژغوري او تل د خپلو منو څخه کار واخلي .

(مشکوٰة شریف)

شورتګر دې دکار اهمیت د اسلام له نظره ښه کوونکو ته تشریح کړي او د بیکاری نتیجې دې هم ورته بیان کړي .

عبدالرحمن بابا رحمة الله تعالى عليه

د عبدالرحمن بابا رحمة الله تعالى عليه د پېژندنې لپاره همدومره بس دی چې ټول خلك ورته بابا وائي .

خو بیاهم د مینې په کتارو ژوبل عبدالرحمن رح د پښتو ژبې یو نومیالی ادیب او صوفی شاعر دی. د پلار نوم یې عبدالستار او په ۱۰۴۲ هـ ق کال د پېښور د بهادر په کلي کښې زېږېدلی دی. عبدالرحمن رح بابا د اشعارو یو دیوان لري چې د دیوان عبدالرحمن بابا رح په نامه شهرت لري. د هرعالي او لوړ مضامین یې په ساده اوخوږو خوږو الفاظو سره بیان کړي دي . هغه خوند او لطافت چې د عبدالرحمن بابا رح په اشعارو کښې شته . د پښتو ژبې د شاعرانو په اشعارو کښې

د هرکم لیدل کیږي .

عبد الرحمن بابا (رح) په قوم مومند دی مګر څنګه چې دیو عالم او شاعر بیان په یوه منطقه او سیمه پورې اړه نه لري نو پخپله ده هم دخپلې پیژندګلوی لپاره داسې ویلي دي .

زه عاشق یم سروکار مې دی له عشقه
نه خلیل نه داؤدزی یم نه مومند

که څه هم عبد الرحمن بابا (رح) په یوه غریبه کورنۍ کښې پیدا شوی دی او پخپله هم غریب ؤ خو دې غریبۍ هیڅکله دده همت ټیټ کړی نه دی . او نه یې بې له خدایه ﷻ د امید لاس چاته اوږد کړیدی ، لکه چې وائي :

څوك دې راكاندې قسم په كردگار
كه درم لرم په كور كښې يا دينار
نږه درم او دينار نه لرم په كور كښې
ولې نور عالم مې بولي دنيادار
دا په داچې نه له ځايه چېرته خوځم
نه دهغې يوه مخلوق يم منت بار

دغه نامتو شاعر اوادیب په (۱۱۱۸) هـ.ق
كښې له دنيا څخه ستركې پټې كړې دې، مقبره
يې د پېښور دهزار خانې په هديره كښې ده.

د عبدالرحمن بابا د کلام نمونه

کړ د کلوکړ چې سیمه دې ګلزار شي
اغزي مه کړه په پښو کښې بډ خار شي

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه نه شه
چې همدا غشي به ستا په لور ګذار شي

کوهی مه کنه د بل سړي په لار کښې
چې ستا به د کوهی په غاړ لار شي

ته چې بل چا ته په خوار و ستر کو کوري
لا ړ مې، به ستا صورت ترخاور و خوار شي

ادم زاد په معنیٰ وار ته یو صورت دی
هر چې بل انسان روي هغه انسان شي

نن چې صبحه ده سروښانه لاړ صحیح کړه
ناکهانه به دا صبحه شب ستا رشي
که بل بد کاندي ته بنه ورسره وکړه
هر یو نخل چې میوه لري سنګسار شي
هغه زړه به له طوفانه په امان وي
چې کشتۍ غونډې د خلکو بار برداشي
د مات لو ښې آوازکله ثابت خبرې
د هرچا عمل څرګند پخپل کفتار شي
خدای دې بد د لاسه نه کا اوکه وي هم
د "رحمٰن" دې له کل بد واستغفار شي

کوم عاصي به نا اميد د مغفرت وي
چې شفيع لري هم ده غوندې پيشوا
محمد صلی الله علیه وسلم دی شهر يار د دواړو کونو
بې له خدايه محتاج نه دی دهيڅوا

هغه شپه چې محمد رسول پيدا شو
نوره شپه شوه لکه ورځ هسې رڼا
د کسرىٰ مانۍ لاړې تار په تار شوې
کافران شوې ژړا په واويلا

که هر څو په عصيان ډوب زه يم محمديم
له نبي (ص) د شفاعت کړم تمنا

لغات	معنیٰ
ګلزار	دګلوځای
خار	اغزی
ناګهانه	ناڅاپه
لطافت	نرمي
سهبر	قوم
منت بار	احسان وړونکی .

محترم ښوونکی دې د عبدالرحمٰن بابا (رح) مقام اومنزلت دیو تصوفي شاعر اونومیالی ادیب په حیث ز ده کړونکو ته بیان کړي .

نصایح

۱- که خوشحالی او هوسایه غواړي نومسلمانانو سره په زړه کښې کینه مه ساتی .

۲- په دنیا کښې داسې څه مه کوی چې د قیامت په ورځ د خدای ﷻ په حضور کښې پرې وشرمیږی .

۳- خپل اخلاق اوکردار لوړ کړی . دنورو بدي په نظر کښې مه نیسی .

۴- بنه کار هغه دی چې انجام یې بنه وي .

۵- مومن خپله کورنۍ په خدای ﷻ

سپارې ، او منافق يې پخپلو سرو اوسپينو .

٦- ياچې اوسې او يا داسې خبرې وکړې چې له چوپتيا غوره وي .

٧- مرغۍ له خپلو پښو په دام کښې نښلي ، او انسان له خپلې ژبې .

٨ - پوهه او حکمت د پيغمبرانو ميراث دی، سره او سپين دقارون او فرعون .

. . . . . .

کرانوندوکوونکو ! پورته نصيحتونه پخپلوکتابچوکښې وليکئ او په ژوندکښې عملي کړئ .

حریص همیشه محروم اوبی نصیبه وی

دلوی اختر وړځ وه، مسلمانانو قربانی کولې، یوحریص سړي وویل: اول به ولاړ شم، دنورو کلوغوښې به راټولې کړم، د خپل کلي غوښې خومې خپلې دي ....

راهي شو، بل کلي ته ورغی، هغوي غوښې تقسیم کړې وې، څه نه ؤ چې ورکړې یې وای، خالي لاس خپل کلي ته راغی دلته هم خلکو غوښې ویشلې وې هیڅ نه ؤ پاتې .... حریص د خپل حرص په سبب محروم پاتې شو.

هر څوك چې حرص كوي ، صبر او قناعت
نه كوي محروم پاتې كېږي .

رباعي

د حريص كاسه چپه ده لاس يې تش خوله يې سپېره ده
د قانع دوډۍ پخه ده لاس يې پك خوله يې خوږه ده

تمرين : د دې پورته حكايت څخه موخه نتيجه واخيستة؟
د حرص او قناعت نتيجې بيان كړئ؟

مثلونه

۱- کبرجن د خدای ﷻ دښمن دی .

۲- دغنمولهٔ کښلهٔ غوږ هم او به کښږي .

۳- اوږده خپل اوپردی یو دی .

۴- ډډه هرو همسا دیو کښډی .

۵- خپل عمل دلاري مل .

۶- لمر په دووکوتو نه پټېږي .

۷- خپله لاسه کله لاسه .

۸- چې تېرشو ، هغه هېرشو .

۹- کښږدی په خپلو مراندو ولاړ ده .

۱۰- د توري پرهار به جوړ شي ، خو د ژبې پرهار نه جوړېږي .

۱۱ - کـ شـپـه تیاره ده . نومښي په شمار دي .

۱۲ - مـبـرونـه مـري نومونه يې پاتـه کـيږي .

۱۳ - کارغـه د زړ کې تـک کـاوه خپل يې هيرشو.

۱۴ - چې څـه کـړي هغـه به ړ يبې .

محترم ښوونکی دې د متلونو د استعمال ځا يونه زده کوونکو ته و ښيئي .

محترم ښوونکی دې زده کوونکو ته د نورو متلونو د راوړلو کور نۍ وظيفه ورکړي .

لیک دود

کله چې سفرته ځو او د خپل کور ، کورنۍ او خپلوانو څخه لېرې کېږو ، خپلوان او دوستان موانتظار لري چې زمونږ او ستاسو لیک وسرته ورسېږي ترڅو زمونږ او ستاسو د احوالونه خبرشي .

که چېرې زمونږ دوستانو څخه کوم یوې په روغتون کښې بستر وي یا داچې اختر اونۍ وي او مونږ نشو کولای چې د نژدې څخه دهغه دوست د ناروغۍ پوښتنه وکړو یا دوستانو او خپلوانوته د اختر مبارکي د نژدې نه ورکړو نو په دې وخت کښې د احوال پوښتنې یادختر

مبارکی یو لیک لازم دی ترڅو یو دبل د احوالونه
بې خبره پاتې نشو او د خپلوی او دوستی دنده
مو پرځای کړې وي .

یا که هیله لری چې په یو دفتر یا ادارې کښې
کار وکړی دلته هم لازم دي چې یوه عریضه
اوغو ښتون لیک ولیکی . کیدای شي په یوه
جبهه کښې په جهاد باندې بوخت یاستی او
غواړی چې د جهاد په هکله هغه څه چاته معلومات
ولیکی چې تاسو سره په دې کار کښې ګډون
لري ، یا خپل نور مجاهدین وروڼه په جهاد
کښې د ګډون لپاره خپلې جبهې ته راوغواړی.
بیدې ټولو صورتونو کښې دلیک لیکلو ته اړتیا
ده .

دليك ډول

دليك دليكلو لپاره يوازې ، سواد ، كاغذ ، قلم او
پاكټ كا في نه دي . دا ټول دليك دليكلو اوبـو
ځاى ته يې دليږلو وسايل دي . خو خپله
دليك ليكنه ځانته دود اولاړې لرې چې بنائي
د هغې رعايت وكړو . بنه او بشپړ ليك هغه
دى چې نېټه ، نوم ، دكورنۍ نوم يا تخلص ،
پته ، د اخستونكى سرليك ، د ليك متن او
د ليكونكي لاس ليك ، ټول پكښې موجود وي .
د ليك نېټه د عادت سره سم د ليك په سركښې
كښې پلوته ليكل كېږي . د ليك نېټه بايد

د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم
د ویناوونځه

(۱) کامل مؤمن هغه څوک دی چې د ښه خوی خاوند وی (ابوداؤد)

(۲) هیڅ عقل د تدبیر په شان نشته، هیڅ پرهیزګاری د ژبې ساتلو په شان له عبښیاتو څخه نشته، هیڅ فضیلت د ښه خوی په شان نشته

(۳) په تحقیق سره ستاسو خدای (بهیقی) یودی اوستاسو پلار یودی. هیڅ فضیلت نلری عرب پر عجم اونه عجم پر عرب اوبهتری نلری سور پوټکی پر تور پوټکي اوتور پوټکی پر سور پوټکي مګر بهتری پیدا کولی شي په تقوی سره.

پوهه وليکل شي . د مثال په ډول د ۱۳۲٤ کال ټولې
د مياشتې دوهمه نېټه، په ځينې ځايونو کښې
د اختصار د پاره نېټه داسې ليکل کېږي ۲/۷/۱۳۲٤
که يو داسې چا ته ليک ليکو چې مونږ ښه پېژني
نو هغه ته مونږ دنوم په لوستلو چې د ليک په آخر
کښې دې پدې پوهېږي چې دا ليک چا ليکلی دی.
خو که داسې چا ته ليک ليکو چې مونږ سره پوره
بلدیت نه لري يا لومړی ځل دی چې ورته ليک آستو
نو لازمه ده چې د خپل نوم ترڅنګ يو بل مطلب هم
وليکو ترڅو د ليک لوستونکی مونږ پوهه وپېژني.
د مثال په ډول عبدالله د ابو حنيفه رحمة الله عليه
د مدرسې سر ښوونکی او نور.
ځينې خلک خپل نوم او پته يوازې د پاکټ

پرمخ لیکي ، کـه پاکټ ورک شي یا د پاکټ پرمخ
لیک ټوټه یا وران شي ، بیا د لیک د ځواب ورکول
د نوم او پتې د نشتوالي په نسبت ګران وي ، نو
ښه داده چې تل نوم او پته په لیک کښې هم ولیکو
دلیکونکي د نوم او پتې د لیکلو ځای د لیک
په پاسنۍ برخه کښې دی . د لیک د اخستونکی
نوم تل د لیک په سرکښې لیکل کېږي او هغې ته
سر لیک ویل کېږي . ددې ناوې او مینې هغه
کلمې چې د لیک اخستونکي ته لیکل کېږي ځینې یې
په لاندې ډول دي .

ګران ورور ، ګران او قدرمن ورور ، ښاغلی ورور ،
ښاغلی او پیاوړی ورور ، قدرمن ورور ، ګرانه او خوږه
مور ، ترور او نور ، د زړه سر زوی ، پوه او عزتمند استاد .

د پوستې د پاکټ په شاباندې د لیکلو یوه نمونه


ز لمی محمود یار
د کابل د عربی دار العلوم
د شپږم ټولګي زده کوونکی
کابل
د پوستې ټکټ
عبد الله خان
د کور نمبر ۲۰
د مبارکې خرقې ترخنلې، د هرات د ولایت قندهار

لیک د دې لپاره لیکو چې یو چاته معلومات ورکړو . یا کوم معلومات د چا څخه وغواړو ، یا غواړو چې یوه موضوع او مطلب ته یو څوک ښه په ځیر کړو . کله چې غواړو چا ته لیک واستو

که هغه زمونږ سره یوځای وي نو دلیک
لیکلو ته ضرورت نشته دی او دلیک مطلب
باید په خولې ورته ووایو . په خبرو کښې بنائې
مطالب زمونږ څخه مخکښې اووروسته شی یا
ځینې مطالب تکرار شي . کله داسې هم کیدای
شي چې دخبرو په وخت کښې دهغه مطلب دپاره
چې زمونږ په زړه کښې دی مناسبه جمله اوکلمه
خولې ته رانشي . خو دلیکلو په وخت کښې،
څرنګه چې وخت زیات لږ، په هرمطلب
کښې فکر کوو او د خپل مطلب د بنکاره کولو
لپاره مناسبې کلمې تاکو ، او دکلمو د تکرار
څخه ډډه کوو . د لیک لیکل تل د سر لیک
څخه لاندې پیل کیږي د سرلیک اولیک دلومړي

کرښې ترمینځ فاصله باید دنورو کرښو
د فاصلې څخه زیاته وي.

دلیک په لیکلوکښې د سپینوغاړو پریښودل
ضرور دی. یوه ښه لیکنه باید دکاغذ په
دواړو خواوکښې سپینه غاړې ولري، سپینه غاړې
لیک ښکلی کوي او لوستل یې آسانوي.

پدلیک کښې د څومو ضوعوګانو یادونه ضروري ده.

۱ - هره نوی موضوع باید دکرښې د سر
څخه پیل کړو.

۲ - دنوی موضوع لومړی کرښه باید دنورو کرښو څخه فاصله ولري.

۳ - دلیک په لیکلوکښې باید دنږ یاتې مطالبو
دلیکلو څخه په کلک مخنیوی وشي.

۴ ـ لاندنی عبارتونه دهرلیك اودهرچا
دمقام، شخصیت اوحیثیت سره سم ولیکل شي
ددې عبارتونو دلیکلوځای دلیك دختم څخه
یوه کرښه لاندې دی د مثال په ډول.

ستاسې دوست ، ستا دملاقات پـه انتظار.

ستاسو دبریالیتوب په هیله، په درناوی.
ددرناوې په وړاندې کولو، دافغانستان
دبرحق جهاد دبریالیتوب په هیله، ستاسو
دبریالیتوب په هیله اونور .
دادی د نمونې په ډول دیو هلك لیك چې
خپل پلار ته یې لیکلی دی او په هغه کښې یې
دخپل بریالیتوب زیږی ورکړی دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

دکرات اومهربان پلار حضورته ! د ع ۱۳۶۲ کال د تلې دمیاشتې ۳۰ نېټه

هیله ده زما سلام ومنی. زه د څښتن تعالیٰ په فضل روغ رمټ یم . ستاسو روغتیا او سلامتیا دخاوند تعالیٰ د دربار څخه غواړم . زما د درنې مور اوکران ورور عبدالله لخواهم زه په کړه لرې، شکر روغ اوجوړ دی .

کرانه پلاره ، یوه اونۍ مخکښې زمونږ کلنۍ آزمویښه پای ته ورسیده . د لوی خدای ﷻ په فضل او ستاسو د دعا په برکت زه په کلنۍ آزمویښه کښې بریالی شوم او د شپږم ټولګي څخه اووم

تولګي ته ولاړم ، ددې لپاره چې د رخصتۍ په
درې میاشتوکښې بېکاره پاتې نه شم ، د مهربانۍ
له مخې د اسلامي علومو په برخه کښې راته دوه
یا درې ټوکه کتابونه راوليږي چې مطالعه يې
کړم . همدا راز که د جهاد په هکله ځینې رسالې
راته راوليږي نو ډېر خوښېږم .

د مهربانۍ له مخې به زما سلامونه ټولو
دوستانوته ورسوی . مانه که کوم امر اوخدمت
وي راته امر وکړی چې تعمیل يې کړم . البته ستاسو
امر تعمیل به زما دوياړه موجب وي . په درناوی
د افغانستان د جهاد د بریالیتوب په هیله .

ستاسو زوی بریالی

(لاس لیک)

د شمولیت عریضه

د ښوونې او روزنې محترم رئیس صاحب !
اَلسَّلَامُ علیکم ورحمة اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهٗ !

محترمه :- زه حامد د حمید الله زوی، سن کال د شهید حبیب الرحمٰن د لومړني ښوونځي د شپږم ټولګي څخه په اعلیٰ درجه فارغ شوی یم، غواړم چې : خپلې اسلامي زده کړې ته دوام ورکړم، له دې امله ستاسې حضورته عارض شوم چې د مجاهد دلیسې په اووم ټولګي کښې د شمولیت امر اوکړې، مهربانی به مووي . (ومن اللّٰه التوفیق)

کرانوزده کوونکو ! پورته عریضه کتابچو ته وسسوی اوپه یادوې نرده کړی .

ښوونکي دې دپورته عریضې په شان نورې عریضې هم زده کوونکوته وښیي.

لنډۍ

په د بسمن نیغ ورځه تیت نه شي
مجاهد ځوان له کولې ځان نه چپوینه
زه به له هغه نر لمي ځار شم
چې د اسلام په لار ټیرله سره وینه
د کولې زخم ژر جوړیږي
د پښور زخم تر قیامته پورې وینه
د خدای (ج) نصرت ورسره مل وي
چې د الله (ج) په مینه ځان قربانوینه
د شهادت آواز دې را شه
د بې ننګۍ آواز دې مه راځه مینه

۴- دابوهریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې ده له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې فرمایلي یې دي: "څوك دی چې پنځه کلمې له ما څخه یادې کړي اونورو ته یې وښي؟" ماویل زه حاضریم.

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دلاسه څخه ونیوم اودغه پنځه کلمې یې وشمارلې:

الف - د منهیاتو څخه ځان وژغورې چې ترټولو خلکو عابد شې.

ب - په خپله برخه چې خدای جل جلاله درکړي خوښ اوسه چې ترټولو خلکو شتمن شې.

ج - دکاونډي سره ښه کوه چې کامل مومن شې

د - کوم شی چې ځان ته خوښوې هغه نورو ته

شهادت څومره سُرخروي ده

شهید د خدای ﷻ رضا کښې جنت ته ځینه

مومن د خدای په مینه مست وي

د جنګ ډګر ته ځکه هسکه غږې ځینه

ستا د بنا ئیسته ټوپک نه ځار شم

چې پرې روسانو یې بل کړي سره اوړینه

د جهاد وځلمو وار دی

په پاک اسلام به توریالي میړونه مرینه

مومنان وارې سره ګیو دي

ورک دې نفاق شي چې به دوي جلا کوینه

لغات	معنی
نصرت	مرسته
سرخروي	کامیابی
هسکه	حکه
جلا	ښېل

ګرانو زړه کوونکو! که دجهاد په هکله مولنړی زړه وي، د ټولګي مخې ته راشی او خپلو ټولګیوالو ته یې ووایاست.

محترم ښوونکی دې پنځه، پښتو لنډی زړه کوونکوته کورنۍ وظیفه ورکړي.

مجاهد وروړ ته لیک

نښته

ګرانه اومجاهده وروره !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

مونږ دلوی خدای ﷻ په فضل روغ یو ستاسې دتولو مجاهدینو صحت اوسلامتیا دلوی څښتن ﷻ څخه د تل لپاره غواړو .

ګرانه وروره : ددې زیرې په اوریدو د پرخوبن شوم چې تاسې په اتحاد اویو والي سره د خپلو عملیاتو په نتیجه کښې ملحدو قواوو ته ځاني اومالي تاوانونه رسولي دي او د پرهر وسله مو په غنیمت نیولې ده .

تاسو تولو مجاهدینو وروڼو ته د دې ستر
بریالیتوب په مناسبت مبارکي وایم .

په پای کښې بیا ستاسو د تولو مجاهدینو
وروڼو روغتیا، سرلوړي، اتفاق او بریالیتوب
دلوی څښتن تعالی څخه غوښتونکی یم

(وَمِنَ اللّٰهِ التَّوْفِيْقُ)

بریالي دې وي مجاهدین
مړه دې وي کمونسټان

د عبدالله له خوا

.....

گرانو زړه کوونکو ! تاسو خپل پلار ته یوخط ولیکی او د خپلې زړه کړې احوال وړته هم په کښې بیان کړی .

د جهاد یوه کیسه

د مجاهد ینو یوې ډلې د کمونستي قوا و د تکولو لپاره د خپل قوماندان په لارښوونه سنګرونه ونیول ، د روسانو او د هغوي د مزدورانو د اتک لپاره په خپلو مورچلونو کښې په انتظار ناست وُو ، د دښمن لاره یې څارله چې ناڅاپه یې د تانکونو غرهار ترغونډوشو.

قوماندان خپلو مجاهدینو وروښوله داسې وویل : خپل استقامت دلاسه ورنکړی ، نصرت او بری تل د مومنانو په برخه دی ، حق همیشه پر باطل غالب دی ، الله ﷻ د حق دلارې پلویانو

سره همیشه په سنګر کښې مرسته کړې اوکوي یې .

کامیابي او بریالیتوب د قوې د پېر والي پورې اړه نه لري د پرځله به مو لیدلي وي چې کم شمیر مجاهدینو الحادي او کفري لویو قوتونو ته مات ورکړې او بري د مومنانو په برخه شوی دی چې همدارنګه د بدر په غزا کښې لږ شمیر مجاهدین په ډېرو کفارو باندې غالب شوي دي ...

د مجاهدینو د قوماندان خبرې لاخلاصې نه وې چې کمونستي قواوې د مجاهدینو سنګرونو ته راننوتې شوې .

مجاهدینو د الله اکبر ټ په ویلو او د اسلام زنده باد په شعارونو سره د کمونیزم نوکران له هرې خوا څخه ترخپل بریدلاندې ونیول

د دواړو خواؤ ترمنځ جګړه پیل شوه ، د روسي
قواوو د مرستې لپاره جنګي الوتکې هم راغلې
د هوا او ځمکې څخه د مجاهدینو سنګرونه په
بمونو اوګولیو ویشتل کیدل ، مجاهدینو هم
په ډیره مېړانه د دین دد ښمنانو مقابله
کوله او د اَللّٰهُ اَکبَر ناري ئې وهلې ، جګړه هماغسې
روانه وه چې څو مجاهدو مېرمنو د خپلو مجاهدو
وروڼو لپاره او به ورورسولې :
د مجاهدو مېرمنو په داشعار چې ویل یې:
اَللّٰهُ اکبَر خدای ﷻ موتل کامیاب او بریالي کړه!
د مجاهدینو وینې په جوش راغلې او پر
د ښمن یې داسې قوي یرغل وکړ چې :
په نتیجه کښې د کمونستانو څخه یونریات

تعداد په هلاکت ورسیدل.

تانکونه او نورجنګي سامان اومهمات يې نابود شول. نړیاته وسله مجاهدینوته هم په لاس ورغله او بری يې په برخه شو.

.....

ګرانو نوښتګرو کوونکو!

د خپلې منطقې د مجاهدینو د بري دغسې کیسې کې موږ ته وي خپلو توليګيوالو ته يې وویاست.

رشیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله تعالی علیه

نصیحتونه

۱ - خپله ژبه په واک کښې ساتی .

۲ - ستاسو دښمنان لوی دښمن ستاسو خراب ملګری دی .

۳ - مه چاته په سپکه سترګه ګوری اومه چا پورې خندا کوی .

۴ - بهترین عمل نورو ته ورکړه ده نه نوروته لاس نیول .

۵ - ریښتیا او صداقت دژوند اساس وګڼه وی .

۶ - د پروردګار د احساناتو هروخت منونکي

او شکر گذار اوسی .

۷- خپل مال د خدای ﷻ د رضا لپاره خرڅ کړی.

۸- ترڅو چې ستا کبر او غوصه شته ځان په اهل علم کښې مه شمیره .

۹- آخرت پر دنیا مقدم کړه چې دوارو کښې کتبه وکړې اوکه دنیا پر آخرت مقدمه کړې نو په دوارو کښې به تاوان وکړې.

۱۰- د قرآن کریم تابعداری په مکمّل ډول سره کوی .

۱۱- الله ﷻ ته هغه خلك نږدې دي چې د مسلمانانو سره شفقت کوي .

مأخذ : (نیك عمل او کرامت الاولیاء)

کرانوزده کوونکو ! پورته غوښه ویناوې نږدې اوخپلو نورو مسلمانانو ورونو ته یې بیان کړئ

هم خوښوه چې کامل مسلمان شي .

ه - په پرمه خانده ځکه چې په ره خندا زره وشرني . "احمد او ترمذي"

پنځم :- څوك چې په کرچنیانو رحم اودلویانو احترام نکوي اوپر ښو کارونو امر اوله بدی څخه نهي نه کوي نرمونن څخه نه دی .

"ترمذي"

٦- د مظلوم له ښېرا څخه ځان وساتی ، ځکه مظلوم د ښېرا په کولو خپل حق له خدایه غواړي او لوی خدای جل جلاله د هیچا د حق ورکولو څخه منع نه کوي .

بیهقي .

نیک وبد

که امید لرې له رحم له کرمه
ستاهم بویه په هرچا باندې کرم
دهرچا سره چې کرې هغه به مومې
دهیڅ تخم میوه نه درومي برهم
اوس دستا رضا نیکي کرې که بدي کرې
نیک وبد دې دواړه بنکلي په قلم

(رحمان بابا)

علم او بخت

که سپین اوسره یې په کور کښې تل وي = چې نه یې علم نه یې عمل وي
بنیا دې نشته آخر به خوارشي = بخت به ترکومه وړسره مل وي .

(عبد القادر خټک)

بنو و منکی دې پوهه ته بیتو د زده کو و نکو د سوئ سره سم معنی کړې .

کومکي غږونه

کومکي غږونه په پښتوکښې پردوه ډوله دي :

۱- یو ډول یې حرکتونه اوبل ډول یې تورې دي .

مونږ تول اصلي تورې ددغو غږونوپه کومک او مرسته وایو، ولې چې اصلي یاچوپ تورې یې دکومکي غږونو له مرستې نه ویل کیږي . په پښتوکښې دغه ورسته حرکتونه موجود دي .

الف- زوړ لکه: ور، غر، غږ .

ب - نوې کې لکه: شل، وچ، مچ .

ج - زبر : دا حرکت اوس د پښتو کلمو په سرکښې نه راځي او په د خیلو کلمو کښې استعمالیږي. لکه : کِل، بِل، عالِم، ظالِم .

د - پښتو :- دا حرکت هم د پارسۍ او عربۍ په د خیلو کلمو کښې راځي لکه : مُزد، تجاهُل

۲ - په پښتو کښې کله، کله په یو نیم حرکت باندې د اوازِ زیات فشار اوزور راځي چې هغه ته نجح (اکسنټ) وائي .

د نجح په راتلو دیوې کلمې معنیٰ له بلې څخه توپیر پیدا کوي ، لکه غوټه که د آوازِ زور په اوله څپه یعنی (غ) راشي د «گړه» معنیٰ ورکوي او که په دوهمه څپه یعنی (ټ) راشي نو د غټیدو معنیٰ لري

یالکه ښځه که چې په «ب» لاشي درنلې معنی ورکوي
اوکه په «ن» لاشي د پرمرغ معنی لري .

۳ - غږونډی (سکون) په پښتوکښې دغه ورته
قاعدې لري .

الف - په پښتوکښې په ساکن توري باندې پیل کول روادی
او دنیم حرکت په ډول ویل کېږي لکه: سپوږمی
لمر، پسرلی ، پښه .

ب - په پښتوکښې تر دریم ساکنو پورې هم یوځای
راتلای شي مګر په دې شرط چې لمړی ساکن بې
یو کومکي توری وي لکه : میاشت ، څلویښت
پنځوس اوداسې نور .

کومکي توري

په پښتو کښې کومکي توري څلور دي ، مګر هغه څه کومکي توري کنهل کېږي چې ساکن وي او د مخه تري بل کومکی توری نه وي ، دغه توري په لاندی ډول دی:

الف:

۱ - دکلمې په منځ او آخر کښې راځي : لکه: کال ، لاړ ، اکا ، انا .

۲ - و - واو په پښتو کښې په څلور ډوله دی:

الف - نرم واو :- چې پوست او نرم ویل کېږي او د مخه توري يې زور لري .

لکه : پلو ، لوکندو .

ب - څرګند واو :- چې د مخه توري يې څرګند
او درو نه پېښ لري لکه : کچالو، چاکو، تالو.
ج - اوږد واو :- چې اوږد نرم ويل کېږي
او د مخه توري يې اوږد پېښ لري لکه : پښتو،
نړانګو ، پيشو ، اوړ ، کور ، خور ، مور .
د - کوچنی واو :- چې د مخه يې سپک لنډ پېښ
وي لکه : لومړی ، تاسو ، پوښتنه .
۳ - (ی) :- په پښتو کې پر پنځه ډوله ده .
الف - نرمه (ی) :- چې پسته و يل کېږي او د مخه
توري يې زور لري لکه : سړی ، مڼګی ، اوړی ،
مڼی ، ژمی ، سيل .
ب - څرګنده (ی) :- چې د مخه توری يې درونه
او څرګند زېر لري لکه : دوستي ، ښادي ،

شين ، سپين .

ج - زور کی والا ی :- چې د مخه توری يې زورکی لری او يوازې دکښې په پای کښې راځي .

لکه : هګۍ ، خولۍ ، کړکۍ ، نجلۍ .

د - اوږده ی ، چې اوږده ويل کيږي او د مخه توری يې اوږود ټرير لري لکه : منې ، شودې ، کوتې ، پخې .

هـ - کوچنی (ی) :- چې د مخه يې سپك لنډ زېروي لکه : باندې ، پاتې .

۴- ه :- په پښتوکښې پر دوه ډوله ده .

الف : څرګنده اولويه (هـ) چې د مخه توری يې زور لري لکه : پياله ، چوغکه ، پوزه ، کوته شونده .

ب - پته او کوچنی (ه) چې د مخه توری یې
زور کی لري لکه: پسه، نیکه اوږه، زړه.

د کلمې قسمونه

هغه لفظ چې د یوې معنی او مقصد د پاره
له خولې څخه وځي کلمه بلل کیږي په بل عبارت
کلمه یو معنی دار لفظ ته وائي.

مونږ د یو مقصد د پوره څرګندولو
د پاره اړیو چې څو کلمې سره یو ځای کړو دکلمو
له یوځای کولو څخه کلام او جمله جوړیږي.
په پښتو کښې د کلمو قسمونه یا د کلام اجزا په
لاندی ډول دي:

۱- نوم :- چې دیوشي یا دیو کیفیت او حالت نوم وي لکه : لمر، زوی، وږی، چرګ، وېره، پوهه، فکر.

۲- ضمیر :- چې د اختصار اولنډیز په غرض د نوم پر ځای ویل کېږي لکه: زه، ته، دی، دا.

۳- صفت :- هغه کلمه ده چې دیو نوم، حالت او څرنګوالی بیانوي لکه :

تور، تول، لږ، ډېر، خوږ، سور.

۴- فعل :- هغې کلمې ته وائي چې په یوه زمانه کښې پر یو کار او عمل باندې دلالت کوي لکه :

ځم، کښېنم، واخیست، وخوړ، و به وایم، و به څښم

۵- قید :- هغې کلمې ته وائي چې د فعل یا صفت

د پاړه د قید او تمیز په ډول استعمالیږي لکه:

ژړ ژړ - ورو ورو، نن، پرون.

۶- ادات یا توري:- هغه چې خپلواکه معنی نه لري
او د فعلونو او نومونوسره دیوې معنی د پاړه استعمالیږي
ادات یا توري بلل کیږي لکه: (له، د، ته، سر،
تر، په، کښې) او نور.

د مفهوم له مخه د نوم قسمونه

نوم د مفهوم او معنی له مخه په پنځه ډوله دی.

۱- خاص نوم: چې یوخاص سړي یا یوخاص
شی معرفی کوي لکه:

احمدشاه بابا، رحمان بابا، کابل، افغانستان.

۲- عام نوم:- هغه دی چې یوخاص سړي یا شی

د حضرت عمر رضی الله عنه تقوی او عدالت

حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دویم یار وٴ ، د اسلام په مقابل کښې ورته خپل او پردي یو وٴ ، د مسلمانانو ترمنځ یې فرق نه کاوه او په هره معامله کښې به یې د اسلامي عدالت او انصاف څخه کار اخیست .

حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په عدالت او رښتینولی کښې جهاني شهرت لري چې حتیٰ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دده د عدل او رښتینولی په هکله داسې فرمایلي :

« خدای جل جلاله را سره د عدالت د عمر رضی الله تعالی عنه په زړه او ژبه کښې یو رنګ ایښي دي ».

تري نه مراد يږي بلکه پر خپلو افرادو يو شان
دلالت کوي لکه : سړی ، لرګی ، پانه غوښه ، هنداره .

۳ - د جنس نوم :- هغه دی چې په لږو د ډېرو
باندې يو شان دلالت وکړي لکه اوبه ، غوړي ،
غنم ، تيل .

۴ - د جمعيت نوم :- هغه دی چې په لفظ کښې مفرد
وي او په معنیٰ کښې ديوې ډلې او جمعيت
د پاڼې راځي لکه : لښکر ، جرګه ، رمه ، ټولی
اولس ،

د جمعيت نوم د ډېرو د لوپه لحاظ جمع کيږي
لکه : جرګې ، رمې ، اولسونه

۵ - مجرد نوم : هغه دی چې مادي وجود نه
لري يعنې په سترګو نه ليدل کيږي لکه : عقل

پوهه ، و ېره .

۶ - نوم د جوړښت په لحاظ پر دوه ډوله دی :

۱ - مرکب نوم :- چې له دوو یا زیاتو کلمو څخه جوړ شوی وي لکه : شیرپور ، کندهار ، شیرشاه مینه ، بریکوټ اونور .

۲ - بسیط نوم :- چې یو مفرده کلمه وي او نور اجزاء نه لري لکه : کټ ، اور ، لاس ، سر ، زړه او داسې نور .

محترم ښوونکی دې دکرامري تورو اهمیت پخپل خپل ځای کښې شاګردانوته د مثالونو په راوړلو سره ډډ ښه کړي .

ARIC

دریمه طبع
دچاپ کال سنبله ۱۳۶۸ دچاپ شمیر (۲۰۰۰۰)
د تعلیمی مرکز د نصاب مدیریت



عذر اوپه پته سره" څکه چې په پته بلل د اخلاص دليل دی" بيشکه چې الله (جل جلاله) نه خوښوي تيريدونکي" له شرعي حدود وپه دعاء بلکه په هرڅه کښې "

دعاء

پاکه ربه رحم ته زمونږ په حال کړې
مونږ ډوبه د بندګۍ په لوړ کمال کړې
ته هادی د مخلوقات يې لويه خدايه
په خپل فضل برابر زمونږ اعمال کړې
هم ظاهرا وهم باطن زمونږ د تولو
د اسلام سپيڅلي دين باندې سمبال کړې
لوی څښتنه د توحيد په حقه لارې
ته موکلکه عقيدې لکه بلال کړې
ښه وحدت د کاميابۍ عظيم قوت دی
مونږ په امن دنفاق له هر ډول کړې
په کافرو بری غواړو ذوالجلاله
تد قبول زمونږ د تولو هر سوال کړې

یوه ورځ دخزانې درویو د ویشلوپه وخت کښې
د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه امنویوه یوه روپۍ دبیت المال څخه
نړیاته واخیسته حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه ورپسې ورغی اوپه
دې برقمرسره یې روپۍ دنرمنوڅخه واخیسته اوبیت المال
ته یې وسپارلې بیایې حاضرینوته وویل: «دعمر رضی الله تعالیٰ عنه
نرامن اوخپلوان دا حق نه لري چې د نورو مسلمانانو
څخه یوه روپۍ زیاته واخلي».

همدارنګه یووخت حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د
عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله تعالیٰ عنه څخه څلورسوه روپۍ
وغوښتې، هغه ورته وویل: ای امیرالمؤمنین!
دمملکت ټوله خزانه ستا په لاس کښې ده، دخزانې
څخه یې ولې نه اخلې؟

حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه ورته وویل: نه وهرښم چې

د اسلامی ټولو وړ امکانات د خدای (ج) په لطف د اسې برابر کړه چې د رب الارباب د رضا د حصول په لیاره کې به هیڅ ډول قدرت زمونږ د مقدسې او تینګې هیلې مخې خنډ کید لای نشي .

دې هدف کمونیزم ټول وحشیانه او غیر انساني کړنې لکه عامه وژنه ، ژوندۍ ښخول ، چور او چپاول ، کورونو او ډکر هستی محصولات په اور کې سیزل د شریفو او مقدسو مساجدو او متبرکو اماکنو ویجاړول ، د زهرلرونکو کاز په نواستعمالول ، د غجن او سموم پروپاګند زمونږ په کران هیواد افغانستان کې فقط او فقط زمونږ د تصمیم نیولو د کرنلارې کله ناکله د تاخیر د یرسیک علت دی او بس .

د افغانستان مسلمان ملت چې د حبل المتین متمسکین او د آسمانی ارشاداتو ممثلین دی . د دوی د قهر او نفرت سیلاب څپانده شو . او د پاک خدای (ج) دوینا سره سم چې ﴿ویلې او جاهدوا فی الله حق جهاده ۷۸ آیه د ج سورې﴾ یعنی جهاد وکړی د خدای (ج) په لار کې د خدای (ج) حق جهاد . نو ځکه د اسلام د عالی تعالیمو ارشاداتو په رڼا کې حق جهاد ته ادامه ورکوو تر څو چې د اسلامي پوهې بله ډیوه د علمي او مسلحانه جهاد په درشل کې تقویت کړو .

ګرانو شاګردانو! څرنګه چې تاسو ته څرګنده ده ، چې د اسلام دعرفان زده کونکو د دوو لو درسي کتابونه چې په پښتو او اتمادو پوړي مربوط وُ استفاده کوله .

د جهادي تنظیمونو محترمو رهبرانو د زده کونکو د افکارو د تشتت د مخنیوي په منظور پدې وروستیو کې دغلې سرحدې او د بنوونې مسؤلینو ته صلاحیت او هدایت ورکړو چې د تولو مضامینو او علومو کوم چې په تعلیمي نصاب کې دي یو ډول کتابونه چاپ او د مجاهدینو او مهاجرینو د زامنو د استفادې د پاره ې برابر کړي . چې د محتوا او مفهوم له نظره د اسلام د مقدس دین محمدي (ص)

نړۍ شریعت ، اود حنفي مذهب ضامن اوساتنه وی وي . اود مجاهدینو اوسلمانو مهاجرینو د ټولو اقشارو د تائید وړ وی .

نوید ي اساس د ښوونې او روزنې دغه آهنګي عالي شوری چه د ټولو محترمو رهبرانو د تائید له مخې تاسیس شوه . چه د ښوونې او روزنې هم آهنګي عالي شوری دا افغانستان د تعلیمي مرکزادارې تاسیس کړه . چه نومورې مرکز په خوا هم و شعبو ټوکله : د تعلیمي نصاب مدیریت ، د نظارت او تفتیش مدیریت ، د پلان او خارجي ارتباط مدیریت ، د اجرائي مدیریت ، مالي مدیریت ، د ښوونې او روزنې مدیریت ، د سواد اوزده کړې مدیریت شامل دي .

د دی مرکز مسئوبین د ټولو تنظیمونو د ښوونې او روزنې متخصصین او مجرب اشخاص دی چه ټول غړي ئې په مجدّانه او متحدانه ډول سره د اسلامي ښوونې او روزنې د تحکیم او تعلیمي نصاب د توحید د پاره کار کوی .

پس له همت او مشورې نه د تعلیمي نصاب متخصصین د درسي مضامینو د کتابونو د تهیې په باب کې دې نتیجې ته ورسیدل چه د جهادي سختو شرایطو او د کافي وخت د نه موندلو له امله اوس د دوو یا څو اتحادونو د درسي کتابونو ئې سره پرتله کړه او هغه عناوین او مضامین چه د زمانې د مشکلاتو په نظر کې ټولو سره د اسلام او جهاد کتنه وی ځوتاکل .

نو ځکه د تعلیمي نصاب مدیریت وياړي چه هسې وخت او بخت ئې پیدا کړ تر څو چه د دواړو جهادي اتحادونو د درسي مضامینو مختلف کتابونه چه د مختلفو نصابونو له خوا طبع شوی وو سره پرتله کړي او هغه مطالب اوعناوین ئې وټاکل چه د اسلام مقدس دین د ښوونې او روزنې له نقطه نظره د نه کړې وړ او د زده کونکو د پوهې د سطې سره سمون لري اود جهادي شرایطو سره موافق وی انتخاب او چاپ کړي .

وبالله التوفیق .

د افغانستان د تعلیمي مرکز د نصاب
اهداف

عمومي هدف:

د ټولو جهادي تنظیمونو د تعلیمي نصاب توحید، دیومتوازن او جامع اسلامي بنسټ ورکول چې د هر ډول باطل پرستي او بدعتونو ضد وي. همدارنګه د اسلامي کلي قوانینو او مفاهیمو استحکام د افغانستان په اسلامي ټولنه کښې غواړي.

خصوصي هدف:-

د اسې نصاب دی چې د اسلام سپاهیان او د حقیقت لارې تلونکي ته دیو والي او وحدانیت لار بنسټ ورکوي تر څو چې دوي په مستحکم او دایمي توګه د عالي او معتدل اسلامي سنتو او قوانینو متمسک وي.

۱ د نصاب د اسلامي بنسټ وني او سواد «د جهادي، فرهنګي، فلسفي، اقتصادي، تخنیکي، مدني، معیشتي شرایطو په نظر کې نیولو سره» ضامن دی.

چې په عین وخت کې د نه شلیدونکي پیوستون ممثل او اتصالات د اسلامي نړۍ سره وي او د اسلامي مقدسو حقایقو مبین وي.

آخري هدف:

د کلمة الله اوچتوالی، د اسلام د شان او عظمت بنسټ ل د نړۍ والو ته، د کفر او کمونیزم اضمحلال، په افغانستان او نړۍ کې د سپیڅلي قرآن د اصولو او قوانینو او د محمدي (ص) غږ شریعت د حنفي فقه په اساس خاص د خدای د رضا د حاصلیدلو په نیت د زمانې د طاغوتیانو سره مبارزه د دې تعلیمي نصاب آخري مرام دی.

د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد

دافغانستان تعلیمی مرکز

دنصاب مدیریت

پښتو قرائت

دشپږم تولګی لپاره

لا إله إلا الله محمد رسول الله

پښتو

د شپږم ټولګی لپاره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

رَبِّ زِدۡنِیۡ عِلۡمًا

قَالَ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ

حضرت رسول کریم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیدی.

رَضِیۡتُ

خوښ یم

بِاللّٰہِ رَبًّا

چې اللہ مورب دی.

وَبِالۡاِسۡلَامِ دِیۡنًا

او اسلام مو دین دی.

وَبِمُحَمَّدٍ نَّبِیًّا وَّرَسُوۡلًا

او محمد صلی اللہ علیہ وسلم مو رسول او نبی دی.

الحمد لله رب العلمین والصلوٰة والسلام علیٰ نبیه الامی الامین

بسم الله الرحمٰن الرحیم

یرفع الله الذین آمنوا منکم والذین اوتوا العلم درجات ط

ترجمه : خدای (ج) الوړی دایمان لرونکو درنجب له تاسونه اوله هغوکسانو نه چه پوهه ئې ورپه برخه کړیده .

دآیه کریمی څخه استنباط کیږي چه هیڅ دول حسنه عمل څرګند اوبارز کیفیات تر پوښ وجود نلري .

داسلام په مقدس دین کې دپوهې اوعلم اهمیت تردې اندازې لوړی دی چه آسمانی وحې د « اقراء باسم ربک الذی خلق » په مبارک آیت شروع شوی ده .

نوپدې اساس د روحي پالنې موضوع او داسلامي تفکر روزنه ، اقتصاد ، سیاست ، عبادات ، اخلاقیات ، بشري حقوق د قرآني نبووني اوروزنې په ترڅ کې داسې وجیبه ده چه دټولو وجایبواو مسایلو په درشل اوترڅ کې تر ټولونه په لومړي قطار کې موقعیت لري .

مونږ د وحدانیت دلارې لاړ تلونکی د هجرت په دیرو نامړو اوسختو شرایطو کې